# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم*


www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



قاسم باز

۱۹ فبروری ۲۰۲۳



قاسم باز

# د قوش تیپه کانال

ما تیر کال هم ویلی وه ، او اوس بیا هم وایم .

زما ښه په یاد دی. کله چی شهید سردار محمد داودخان د قوش تیپه د کانال د جوړولو هوډ پلان ، نقشه او چاری شروع کړی روسانو رسماً د کابل په حکومت اعتراض وکړ ، لیوندبریژنیف روسی فرعون د کرملین په ملاقات کی د افغانی هیأت مشر جمهور رئیس محمد داودخان ته وویل چی دوی د افغانستان د پخوانی حکومت سره تعامل درلود چی افغانستان به هیڅکله غربی کارپوهان د افغانستان په شمالی ولایتونو کی په کار نه گماری. ځکه دا کار پوهان نه بلکه استخباراتی جاسوسان دی. د دوی موجودیت په شمال د افغانستان کی مونږ ته خطر او مونږ ددی کارپوهانو موجودیت نشو ذغملای. مرحوم داودخان روسی مشر ته وویل دا چی مونږ څوک چیری په کار گمارو دا د افغانستان د دولت حق دی، که مونږ پردی پوه شو چی کوم خارجی کارپوه بل هیواد ته جاسوسی کوی هاغه کارپوه که د چلکوسلواکیا وی یا د المان، انګلستان وی او که د بلغاریا مونږ به یی لاس د کاره باسو او د وطن ( افغانستان ) څخه بی شړو ..

البته د قوش تیپه د کانال په جوړولو کی څو تنو غربی ماهیرینو چی د زراعت په برخه کی په افغانستان کی کار کاوه همکاری درلوده ، خو کله چی لیوندید برژنیف د افغان رهبر غوڅ موقف او دریځ درک کړو سمدستی روسان لاس پکار شول کابل کی یی خپلی حزبی ډلی سره متحدی او خپلو گوډاگیانو ته یی د ثور د کودتا امر صادر کړ.

روحت شاد باد ای داود بزرگ .

۲/۱۷/۲۳

https://twitter.com/wfaqiri/status/1626533049096609792?s=46&t=taDwFDAoZ0o8c_DUzcOIZw